# Ko tō tātou kāinga tēnei

## په 15 مارچ 2019 د کرایسټ چرچ په دوو مسجدونو د تروریستي برید په اړه د شاهي کمیسیون د څېړنې د راپور لنډیز.

[Pashtu]



ROYAL COMMISSION OF INQUIRY
INTO THE TERRORIST ATTACK
ON CHRISTCHURCH MOSQUES
ON 15 MARCH 2019

TE KŌMIHANA UIUI A TE WHAKAEKE
KAIWHAKATUMA I NGĀ WHARE
KŌRANA O ŌTAUTAHI I TE
15 O POUTŪ-TE-RANGI 2019

26 نومبر 2020

Ko tō tātou kāinga tēnei

خپور شوی په 26 نومبر 2020

ISBN 978-0-473-55386-9 (پي ډي ايف)

ISBN 978-0-473- 55387-9 (پیپربیک)

© د چاپ حقونه 2020

دا سند آنلاین په دې ادرس موجود دی:

www.christchurchattack.royalcommission.nz

د ECF او FSC په تصدیق شوي کاغذ کارولو سره چاپ شوی کوم چې

د اسید نه هم پاک او په بیولوژیکه توګه د تجزیې وړ دی



# دا ستاسو کور دی

# او دلته باید تاسو

# خوندي وای

ددې انځور د ډالۍ کولو هنرمندۍ روبي جونز کړې ده.

شاهي کمیسیون د زړه له کومې د روبي د قابلیت او سخاوت مننه کوي.

# مننه او قدرداني

شاهي کميسيون مني چې 15 مارچ 2019 د اسلامي قمري جنترۍ سره سم 7 رجب 1440 جوړېږي، کومه چې د 7مې اسلامي مياشتې 7مه نېټه ده.

شاهي کميسيون د 51 شهيدانو مننه او قدرداني کوي. هغوی زمونږ د ښېرنې په زړه کې وو.

مونږ هيله لرو چې د 51 شهيدانو کيسې ژوندۍ وساتل شي او دا چې د هغوی کيسې مونږ او راتلونکو نسلونو ته الهام ورکړي.

شاهي کميسيون همداراز د ډېرو ژوندو پاتې شوو کسانو او شاهدانو هم مننه او حق پېژندنه کوي.

مونږ هيله لرو چې د 51 شهيدانو خپل خپلوان، د تروريستي برید څخه ژوندي پاتې شوي کسان او شاهدان او د هغوی خپل خپلوان يو سوله بيز ژوند ولري.

Kia whakatōmuri te haere whakamua

زه په راتلونکي کې شاته قدم اخلم په داسي حال کې چې سترګې مې په تېر وخت قوي لګېدلې دي.

دا واکاتاوکي يا 'متل' د وخت په اړه د ماوري لرليدنو خبره کوي، په کوم کې چې تېر وخت، حال او راتلونکی د يو بل سره اودلي ليدل کېږي. د وخت په دې مفکوره کې تېر وخت شاته نه پرېښودل کېږي؛ بلکې د ځان سره راتلونکي ته وړل کېږي.

عبدالفتاح قاسم

عبدالقادر علمي

احمد جمال الدين محمد عبدل غني

علي محمود علماداني

ڈاکٹر امجد قاسم حامد

انسي كاريپا كولام عليياوا

عارف محمدد علي ووهرا

اشرف علي رزاق

اشرف المرسي راغب

عطا محمد عطا علايان

فرهاج احسان

غلام حسين

حاجي اشرف علي

حاجي مطيع الله صافي

حاجي محمد داود نبي

حاجي محبوب الله لكهر كهوكهر

حمزه الحاج مصطفى

ڈاکٹر هارون محمود

حسن احمد

حسين حازم العمري

حسين محمد خليل مصطفى

جنيد اسماعيل

كامل (محمدد كمال كامل درويش

كرم بي بي

خالد الحاج مصطفى

ليليک عبدالحميد

ليندا سوسان ارمسترانگ

ايم ڈي مجمل حوق

محمد موسيد محمد حسين

محمد عمران خان

محمد عمر فاروق

محسن محمد الحربي

منير سليمان

موكاد عدن ابراهيم

ڈاکٹر محمد عبدالصمد

محمد حازق بن محد ترميزي

محمد سهيل شهيد

محمد ذيشان رضا

موسى ولي سليمان پتيل

نعيم رشيد

قاسم عدنان يوسب ابوكويک

عزير قادر

رميز عارف بهايي وورا

سيد احمد ميلنى

شيخ موسى نور اوالي

سيد اريب احمد

سيد جهانداد علي

طلحه نسيم

طارق رشيد عمر

ذكريا بهويا

ذكريا طويان

This is our home

Ko hotau 'api eni

这是我们的家

Dies ist unser Zuhause

یہ ہمارا گھر ہے

Bu bizim evimiz

यह हमारा घर है

# Ko tō tātou kāinga tēnei

這是我們的家

এটাই আমাদের বাড়ি

Nous sommes chez nous ici

دا زمونږ کور دي

Kani waa guriga naga

O le mātou 'āiga lenei

یہ ہمارا گھر ہے



# فهرست


| | |
|---|---|
| منته او قدرداني | 4 |
| سریزه | 9 |
| عمومي لنډیز | 12 |
| ترکیبی موندنې | 21 |
| د سپاربښتنو لنډیز | 24 |
| د پای تبکی | 37 |

# سریزه



اسلام علیکم tēnā koutou

[۱] مونږ د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید راپور د 51 شهیدانو whānau ، د ژوندو پاتې شوو او شاهدانو او د هغوی د whānau د کومو زندګي چې د تل لپاره بدله شوې ده د منني او حق پېژندني څخه پیل کوو. هغه کسان چې د دوو مسجدونو کې پرې برید شوی نیوزیلنډیان وو کوم چې یو سوله ییز لمانځه ته راغونډ شوي وو. تروریست 51 کسان ووژل او کوښښ یې وکړ چې 40 کسان نور ووژني. د هغه ظالمانه اقدام د کرکې وړ او د نه پوهېدو وړ دی.

[۲] ددې تروریستي برید انګیزه یوه د افراطي ښي نظریې اسلاموفوبیک مفکوره وه. ددې هدف دا و چې نیوزیلنډ کې ګډوډۍ او بې اتفاقی ته وده ورکړي. دغه هدف ناکام شو. په ورپسې ورځو، هفتو او میاشتو کې نیوزیلنډیان د متاثره شوو کسانو چارچاپېر په اتفاق راغونډ شول او د نژاد پرستۍ، افراطیت او افراطي تاوتریخوالي خلاف یې غږ پورته کړو. ورپسې یوه موده زمونږ د شریکو ارزښتونو، زمونږ د ټولنیز ژوند او دا چې په نیوزیلینډ کې ژوند کول څه مانا لري په اړه د انعکاس لپاره وه.

[۳] هیواد دې ته اړتیا لرله چې پوه شي چې څه پېښ شوي دي، ولې او په راتلونکي کې د بریدونو د کمولو لپاره څه باید وکړی شي. دا د څېړنې شاهي کمیسیون جوړ کړی شو. دا زمونږ امتیاز او افتخار دی چې ددې د غړو په توګه کار کوو.

[۴] زمونږ د څېړنې په زړه کې هغه کسان وو چې خپل ژوند یې له لاسه ورکړی، د 51 شهیدانو whānau ، د تروریستي برید څخه ژوندي پاتې شوي او شاهدان او د هغوی whānau . مونږ غوښتل چې د کولتور سره په مناسبه طریقه دوی غږ ته غوږ شو او مکالمه ورسره وکړو.

[۵]	هغوی چې په سخاوت سره یې موږ ته په خپلو کورونو کې ښه راغلاست وویلو موږ یې قدرداني کوو. خلکو خپل غم او صدمه او همدارا ز نیوزیلینډ لپاره خپله مینه یې موږ سره شریکه کړه او د ټولو نیوزیلینډي ټولنو ترمینځ د بهترو تړونونو ارزو یې وکړه. هغه خلک چې ژوند یې له بېخ او بنیاده ګډوډ شوی وو هغوی هم واقعاً توان لرلو چې راتلونکي ته پام وکړي او نیوزیلینډ لپاره هیله مند شي.

[۶]	موږ د هغه شخص چې د ترورستي برید پلان یې جوړ کړی و او ترسره یې کړو د ژوند ژوره پلټنه وکړه. موږ د عامه سکټور د ادارو، په ځانګړي ډول هغو ادارو څخه چې وظیفه یې دا دې ډول بریدونو څخه د نیوزیلینډیانو حفاظت کول دي سختې پوښتنې وکړې.

[۷]	موږ د داسې موضوعاتو لکه د استخباراتي معلوماتو راغونډولو نه تر ټولنیز پیوستون پورې په اړه د ګڼ شمېر نیوزیلینډي او نړیوالو ماهرانو سره ملاقاتونه وکړل. په سلګونو خلکو موږ سره ولیدل، موږ ته یې خطونه ولیکل، موږ ته یې ثبوتونه راکړل او مرکې ورسره وشوې. د 1,100 نه زیاتو کسانو وړاندیزونه داخل کړل.

[۸]	موږ د ټولو هغو کسانو مننوی یو چې دومره په خلاصه توګه او په صداقت یې موږ سره په شریکه کارونه وکړل. راتلونکي کې د ټولو نیوزیلینډیانو د فایدې لپاره په دې ځېړنه کې د ګډون کولو لپاره مونږه یوه اصلي او د زړه د کومې نه اراده محسوس کړه. دا خبره په ځانګړي ډول په Muslim Community Reference Group صداقت کوي د چا نظرونو چې زمونږ په راپور کې ډېره زیاته ونډه ولرله. په همدې توګه مونږ د JustCommunity او د Navigate Your Way Trust مننوی یو، دا هغه سازمانونه دي چې موږ سره یې کومک وکړو چې د ترورستي برید د 51 شهیدانو د whānau او د ژوندو پاتې شوو او شاهدانو او ددوی whānau سره دخیل شو او خبرې اترې وکړو.

[۹]	موږ د نړیوالو ماهرانو او استرالیا، ناروی، انګلستان او د امریکا متحده ایالاتو کې د استخباراتي او امنیتي ادارو د مشرانو څخه مننه کوو چې په ډېره لېوالتیا سره یې موږ ته خپل وخت او خپل ارزښتمن مهارتونه راکړل. زموږ ځانګړې مننه د Lord Hogan-Howe QPM او John McKinnon CNZM QSO څخه ده چا چې موږ ته خپلواک مهارت او نظرونه راکړل کوم چې ددې څېړنیز راپور په اړه د انتقادي نوعیت وو.

[۱۰]	په پای کې موږ د شاهي کمیسیون د دارالانشاء او مرستندویه مشاورینو څخه د مننې څرګندونه کوو کومو چې موږ ته بېلابېل نظرونه، مهارتونه او تخصص راکړل تر څو زموږ په کار کې ترې کار واخیستل شي چې په دې توګه یوه پیاوړې کړنلاره تضمین شوه.

[۱۱]	موږ په دې راپور کې سپارښتنې کړې دي کومې چې پراخ دامنه او تفصیلي دواړه دي. دا د زیات خوندي او ټولنیزو پیوستون لرونکي نیوزیلینډ د ودانۍ بلاکونه دي.





جیکی کائن
ممبر

محترم سر ولیم ینګ KNZM
سربراه



زمونږ د اوتیاروو‌ا (Aotearoa) نیوزیلینډ د زغم او همیشګی انځور کورو (koru) دی.

د سرخس پاڼه چې د پرانیستې په حال کې وي د سولې، سکون، پرمختګ، مثبت بدلون او بیدارۍ نماینده ده. د سولې اړخ د ژوندي دین اسلام د ذات په معنا کې هم دی.

مونږ ددې ټاونګا او د هغه سفر ترمینځ موازي کرښې راکاږو چې نیوزیلنډیانو ته لا مخې ته پروت دی چې یوه زیاته خوندي او همه شمول ټولنه جوړه شي.

د کورو طرحه چې اوه ډلې او اوه د سرخس د پرانیستې په حال کې پاڼې لري د 15 مارچ 2019 په دې طریقه په درناوي یادونه کوي چې دا د اسلامي قمري جنترۍ د 7 رجب 1440، یعنې د 7مې اسلامي میاشتې د 7مې نېټې سره سمون خوري.

# عمومي لنډیز

[۱] د 15 مارچ 2019 د ویجاړوونکي برید نه وروسته دولت د څېړنې شاهي کمیسیون اعلان وکړو، کوم چې په عام ډول د عامه اهمیت د ډېرو جدي معاملو لپاره وي، چې دا به جوړېږي تر څو د رامینځته شوې پېښې په اړه څېړنه ترسره کړي او راپور یې ورکړي.

[۲] دغه تروریست برید د Brenton Harrison Tarrant لخوا ترسره شوی و، کوم چې د 51 کسانو د قتل او د نورو 40 کسانو د قتل د هڅې په جرم جزايي دی. هغه دا مهال د ټول ژوند د زندان سزا تېروي په کومه کې چې مشروطه ازادي نشته. مونږ په عامه توګه خپل راپور کې هغه د "هغه فرد" په توګه یادوو. د هغه نوم به بیا راښکاره نشي.

[۳] د دولت لخوا ټاکل شوو د حوالو شرطونو مونږ ته لارښوونه کړې چې د درې پراخو برخو څېړنه وکړو - د دغه فرد اعمال، د عامه سکټور د اړوندو ادارو اقدامات او هغه بدلونونه چې راتلونکي کې د دا ډول تروریستي بریدونو مخه نیولی شي. دې لپاره د ثبوت یوه تفصیلي او علمي معاینه اړینه وه. دا ددې باعث هم شو چې د هغو سیستمونو او ادارو چې د نیوزیلینډیانو د حفاظت او پیوست کولو لپاره جوړې شوې دي په اړه پراخه فکر وکړی شي.

[۴] زمونږ د حوالې شرطونو په مونږ لازمه کړې وه چې په لاندې موضوعاتو موندنې وکړو:

أ. آیا د [عامه] سکټور اړونده ادارو ته داسې معلومات په لاس ورکړی شوي وو یا ورکول کېدلی شول چې ددې تروریستي برید په اړه یې هغوی ته خبرداری ورکولی شو یا یې باید خبرداری ورکړی وی او که داسې معلومات ورکړی شوي وو یا موجود وو نو ادارو ددغه ډول معلوماتو په وړاندې څه اقدام کړی او دا چې آیا دغه اقدام مناسب و؛ او

ب. د [عامه] سکټور د اړونده ادارو خپل مینځ کې متقابل عمل، په ګډون ددې چې آیا د اړونده ادارو په خپل مینځ کې د معلوماتو د شریکولو په لړ کې کومه ناکامي رامینځته شوې؛ او

ت. دا چې آیا د [عامه] سکټور اړونده ادارې په تروریزم ضد سرچینو د نامناسب تمرکز او یا د نورو تروریستي تهدیدونو د لومړیتوبونو له امله د دې تروریستي برید د ترسره کېدو یا پلان په لیدلو کې ناکام شوې دي؛ او

ث. دا چې آیا د [عامه] سکټور کومه اړونده اداره د لازمو معیارونو په پوره کولو کې ناکام شوې او یا یې بل کوم کمی لرلو، که ټول وي او که یوه برخه؛ او

ج. نورې معاملې چې د څېړنې د هدف سره تړون لري، تر هغه حده چې د بشپړ راپور د تیارولو لپاره اړین وي.

[۵] مونږ لومړنۍ څلور پوښتنې د لارښوونې له مخې اساسي داسې ولیدلې چې آیا د عامه سکټور ادارو د تروریستي برید په ارتباط د غلطۍ مرتکب شوې دي.

[۶] په مونږ همداراز لازمي وه چې د راتلونکي لپاره سپارښتنې وکړو.

[۷]	زمونږ د څېړنې په زړه کې د 51 شهیدانو whānau ، د تروریستي برید څخه ژوندي پاتې شوي او شاهدان او د هغوی whānau وو. مسلمانو ټولنو سره ټړون زمونږ د حوالې په شرطونو کې یوه توقع وه، خو داسې کول صحیح کار هم و. په دې طریقه مونږ ارزښتمن لرلیدونه لاسته راوړل.

[۸]	د تروریستي برید د 51 شهیدانو د whānau او د ژوندي پاتې شوو او شاهدانو او د هغوی د whānau څخه مونږ د تروریستي برید د روانو تاثیراتو په اړه خبرې واورېدلې، چې په هغې کې دولت څخه د ملاتړ د ترلاسه کولو چیلنجونه شامل وو. مسلمانو ټولنو سره د پراخه دخالت له لارې مونږ عامه سکټور څخه د هغو ناهیلیو څخه خبر شو چې ډېر کلونه شا پورې ځي. مسلمانو ټولنو په واضح ډول د نژادپرستی، تبعیض او داسې تجربو په اړه خبرې وکړې چې د شکمنو تروریستانو په توګه پرې شک شوی و یا ورسره په دې توګه چلندش وی و او همداراز د خپلې دې وېرې په اړه چې د نفرتي تقریرونو، کرکنیزو جرمونو او تروریزم هدف دي.

[۹]	هغو ټولنو چې مونږ ورسره خبرې وکړې لا زیات ټولنیز پیوستون یې لیدل غوښتل او مونږ ته یې د زیاتو نړدو ټولنیزو ټړونونو د ارزو په اړه وویل تر څو ټولو خلکو سره د د خوندي او ښه راغلاست د احساس په ورکولو کې کومک وکړي. ټولنیز پیوستون د فایدو باعث شوی دی چې په هغې کې د یو خوشحال، ګټور او ګډون لرونکي ژوند تېرول، د زیات تولیدي توان سره، شامل دي. مهمه دا چې ددې معنا دا ده چې ددې احتمال کمېږي چې خلک د تروریزم په ګډون افراطي او تاوتریخوالي چلندونو والا لوري ته رادیکال او لاړ شي.

[۱۰]	عامه ولس په دې اړه سخته اندېښنه وښودله چې دغه فرد ته د وسلو جواز ورکړی شوی و. د هغو وړاندیزونو چې مونږ ترلاسه کړي یوه لویه برخه د وسلو لرونکو څخه راغلې وه کومو چې وړاندیزونه کړي وو چې د وسلو د جواز پروسه دې سخته کړی شي، داسې تدابیر دې رامخې ته کړی شي چې په زیاته اندازه د وسلو او مهماتو تعقیب او د اندېښمن چلند د راپور کولو مکلفیت بهتر کړي. ډېرو احساس کاوه چې په نیم اتوماتیک سټایل والا نظامي وسلو بندېز لګولو د وسلو مسئولیت لرونکي څښتنان په غیر ضروري توګه مجازات کړل، او لومړیتوب یې دې ته ورکړو چې ددې په ځای د وسلو د جواز سیستم بهتر کړی شي.

[۱۱]	مه برخه: تروریست ددغه فرد ژوند، شالید او په ځانګړي ډول دغه تروریستي برید لپاره د هغه د پلان جوړوني او تیاری په اړه زمونږ د پراخه پلټنو نتیجه ده. مونږ پوهېږو چې ځینې خلک به د هغه په اړه لوستلو ته ترجیح نه ورکوي، خو دا زمونږ وظیفه وه چې په دې اړه راپور ورکړو چې څشي د هغه په افراطي نظرونو اثر و نفوذ لرلو، ولې هغه تروریستي برید لپاره د نیوزیلینډ انتخاب وکړو او څنګه هغه د عامه سکټور د ادارو په نظر کې راتللو نه ځان وساتلو.

[۱۲]	دغه فرد یو سپین پوستی استرالیایي سړی دی چې په مارچ 2019 کې یې عمر 28 کاله و. هغه د ځوانی د عمر نه نژادپرست چلند څرګند کړی و. داسې ښکاري چې د هغه د ژوند تجربو د هغه رنجش او ناراضي زیاته کړې او رادیکال شوی دی، چې په دې توګه یې د هغه خلکو په اړه چې د هغه په نظر کې تهدید و د ښي نظریې افراطي څرګندونو ته بنه ورکړې ده. په پای کې هغه د تاوتریخوالي لاره غوره کړې.

[۱۳]	دغه فرد نیوزیلینډ ته په 17 اګست 2017 رارسېدلی و. د یو استرالیایي په توګه هغه نیوزیلینډ کې د اوسېدلو حق لرلو. د رارسېدو نه یو څو ورځې وروسته هغه Dunedin ته کډه شو او له دغه وخته وروسته یې خپل ژوند د تروریستي برید د پلان جوړوني او تیارولو لپاره وقف کړی و.

مونږ د تروروستي برید نه مخکې موده کې او د هغې پر مهال آنلاین پلیټ فارمونو څخه د هغه استفادې ته کتنه وکړه. مونږ ددې تحقیق هم وکړو چې دغه فرد د وسلو جواز څنګه ترلاسه کړی و او بیا څنګه په دې توانېدلی و چې وسلې او مهمات ترلاسه کړي. مونږ دا خبره هم تعقیب کړه چې هغه څرنګه د وسلو په اړه د خپل مهارت په زیاتولو او یو جیم کې په کار کولو او د ستیرویډونو په جمع کولو سره د تروروستي لپاره ټریننګ کړی و.

[۱۴] دغه فرد نږدې دوستان نه لرل او اکثر ډول یې د ټولنیزو وضعیتونو څخه ځان لیرې ساتلی و، او، په دې معنا کې هغه په ټولنیزه توګه منزوي و. هغه په مالي توګه خپلواک و او ډېر سفرونه یې کړي وو. د خپل تروروستي برید په تیاری او پلان جوړونه کې هغه میتوډیکي او ځانته و. دغه فرد خپل ځان مرتب ساتلو او په داسې طریقه یې چلند کولو چې شک پرې نه رامینځته کېدلو. هغه د داسې تن په توګه نه و پېژندل شوی چې تهدید به رامخې ته کوي. په دې اړه راپور کې مونږ خپل دلیلونه پراخوو.

[۱۵] څرنګه چې مونږ په تروروست: 4مه برخه کې توضیح ورکوو، مونږ مطمین یو چې دغه فرد ځانته عمل کړی دی.

[۱۶] وسلو ته مونږ په 5مه برخه کې له زیات نږدې کتنه کوو: د وسلو جواز.

[۱۷] باوجود ددې چې دغه فرد په نیوزیلینډ کې هیڅ سابقه نه لرله، وسلو لپاره د هغه د جواز درخواست هیواد ته د هغه د رارسېدو نه وروسته په درې میاشتو کې دننه منظور شوی و. د ریفري په توګه هغه د خپلې خور نوم ورکړی و خو په دې خاطر چې هغې استرالیا کې ژوند کاوه، د وسلو د جواز ورکولو عملي ترې غوښتنه کړې وه چې خپل ریفري بدل کړي. په پای کې دوه په نیوزیلینډ کې اوسېدونکي ریفریان (یو بالغ تن او د هغه مور/پلار) چې د دغه فرد د "دوستانو" په توګه تعریف شوي وو، د هغه په اړه ویلي وو چې یو "جوړ او مناسب" تن دی. دغه بالغ (د کوم یادونه چې مونږ د "ګیم کوونکي دوست" په توګه کوو) د دغه فرد سره لس کاله انلاین ګیمونه کړي وو ولې په فزیکي توګه د هغه سره په دغې ټوله موده کې شاوخوا 21 ورځې هغه سره و. د ګیم کوونکي دوست مور/پلار په څلورو کلونو کې یوازې شاوخوا اوه ورځې د دغه فرد په موجودګۍ کې تېرې کړې وې. په دواړو حالتونو کې دغه فرد سره تېر کړی شوی وخت کله کله و.

[۱۸] زمونږ نتیجه داده چې د وسلو جواز.د درخواست په پروسه کې دې خبرې ته ناکافي توجو شوې وه چې آیا دغه ګیم کوونکي دوست او د هغه مور/پلار دغه فرد په پوره توګه پېژندلو چې د هغه لپاره مناسب ریفریان شي. مونږ په دې بحث کوو چې که هغه وخت کې یې درخواست نه وی منظور شوی یا شاید په مختلفه طریقه پرې کار شوی وی نو څه به شوي وی.

[۱۹] زمونږ په نظر د نیوزیلینډ د پولیسو د وسلو د جواز ورکولو د سیسټم اداري لازم معیارونه نه وو پوره کړي. ددې په سببونو کې د جواز ورکوونکې عملې لپاره کمه لارښوونه او ټریننګ او په داسې درخواستونو په کومو کې چې نومول شوي ریفریان په حضوري توګه نشي مرکه کېدلی کار کولو لپاره کمه لارښوونه شامله ده.

[۲۰] د متني ارتباط لپاره، څنګه چې د وسلو قانون سازي زمونږ په دایره کې شامله نده، مونږ د نیمه اتوماتیکو وسلو د مقرراتو په اړه بحث کوو. دا سُست، د ناسمې استفادې لپاره ازاد او اسان وو او دغه فرد پرې لوبه کړې. دا خطر چې ښایي نیوزیلینډ کې یو تروروستي برید کې زیاتې وژونکې وسلې وکارول شي په یو شمېر موقعو پېژندل شوی و. یو خبرداری وروسته له هغې چې یو تروروستي برید په 2011 کې د ناروی په اوسلو او یو په Utøya Island کې وشو، په کوم کې چې یو نیمه اتوماتیک ټوپک کارول شوی و.

[۲۱]	د تروریستي برید نه مخکې چې د دغه فرد په اړه د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو د هغې معاینه مونږ په 6مه برخه: د تروریست په اړه د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو کې کوو. مونږ د ټول عامه سکټور 217 ادارو ته تفصیلي پوښتنې ورکړې او راته معلومه شوه چې لسو ادارو سره داسې معلومات وو چې مونږ اطمینان لرو د دغه فرد سره ارتباط لري.

[۲۲]	یوازیني معلومات چې دغه تروریستي برید ته یې اشاره کوله یو ایمیل و چې دغه فرد پارلیماني خدمت (او همدارازسیاستدانانو، رسنیزو ادارو او انفرادي ژورنالستانو) ته د تروریستي برید نه فقط اته دقیقې مخکې لیږلی و. د برید په اړه دغه مهم معلومات (د موقعیت له نظره) یوه د 74 پاڼو مخونو بیانیه وه چې د ایمیل سره پیوست شوې او د ایمیل دننه یې لینک ورکړی شوی و. د یو څو دقیقو په تیرېدو سره پارلیماني خدمت دغه ایمیل خلاص کړو، وې لوستلو او د بیانیې معنا ورته ښکاره شو او بیا یې جزییات د نیوزیلینډ پولیسو ته تحویل کړل. تر دغه وخته پورې تروریستي برید پیل شوی و. ددې ټول جزییات په 6مه برخه: د تروریست په اړه د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو کې راسپړو او مونږ مطمین یو چې پارلیماني خدمت په صحیح پروسیجرونو عمل کړی او سمدستي یې اقدام کړی و.

[۲۳]	ددغه فرد په اړه نور معلومات زیاتره د پام وړ نه وو. اوس وروسته نه د کتلو په فایده مونږ کتلی شو چې ځینې پکې د دغه فرد د پلان جوړونې او تیاری سره مربوط وو. خو په هغه وخت کې دا څرګنده نه وه ځکه چې دغه معلومات خواره واره وو. د هغو هیڅ یو واحد اړخ د عامه سکټور ادارې د یو نږدې راتلونکې تروریستي برید په اړه نشوې بیدارولی. د عامه سکټور هغه ادارې چې د تروریزم ضد هڅو کې دخیلې دي داسې ندي تشکیل شوې چې داسې معلومات راغونډ او جمع کړي لکه طبي او د وسلو د جوازونو ریکارډونه. مونږ دا په 6مه برخه: د تروریست په اړه د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو کې بحث کوو.

[۲۴]	په 7مه برخه: د یو احتمالي تروریست کشفول کې مونږ د تروریستانو د کشفولو او ناکاره کولو په چیلنجونو بحث کوو. استخباراتي او امنیتي او د قانون نافذوونکو اداره لپاره د داسې تروریستي بریدونو چې فقط د یو تن لخوا ترسره کېږي کشفول او مخه یې نیول سخت دي. ددې باوجود ډېرې د تروریستي بریدونو ارادې چې د یو تن لخوا شوې وې په حقیقت کې ناکاره کړی شوې دي. په دې برخه کې مونږ دغه فرد د کیس سټډي په توګه کاروو چې تر څو ځینې مهمې مسلې معاینه او توضیح کړو مخکې له دې چې تروریزم سره مقابلې ته له زیات نږدې کتنه وکړو.

[۲۵]	تروریزم سره د مقابلې هڅې (کومې چې د ملي امنیت د پراخه سیستم دننه تشکیل بنه ده) ته په 8مه برخه: د تروریزم د مقابلې د هڅې ارزونه کې کوو. د عامه سکټور په هغو ادارو چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیلې دي کې د لومړي وزیر او کابینې د محکمې ملي امنیتي ډله (National Security Group of the Department of the Prime Minister and Cabinet)، د دولت مخابراتي امنیتي دفتر (the Government Communications Security Bureau)، د نیوزیلینډ د مهاجرت دفتر (Immigration New Zealand))، د نیوزیلینډ ګمرک، د نیوزیلینډ پولیس او د نیوزیلینډ د امنیتي استخباراتو خدمت شامل دي.

[۲۶]	تروریزم سره د مقابلې د هڅو په اړه چې کومې پوښتنې مونږ نه په زیاته ښکاره توګه شوې دادي چې آیا د عامه سکټور اړوندې ادارې له دې امله د تروریستي برید د توقع یا پلان په لیدلو کې ناکامې شوې دي چې تروریزم سره د مقابلې په سرچینو یې تمرکز مناسب نه و یا یې لومړیتوب په نورو تروریستي تهدیدونو و. ددې پوښتنې یو اسان ځواب نشي ورکول کېدلی، خو مونږ په میتوډیکه توګه په دې مسلو کار کوو.

[۲۷]	یو سیاق و سباق شته چې باید وپېژندل شي. استخباراتي او امنیتي ادارې په پرتلیزه توګه ډېر کم ټولنیز جواز لري. ددې او نورو سببونو لپاره چې مونږ یې راسپړو، د عامه سکټور هغه ادارې چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیلې دي محدود توان او ظرفیت لري - تر هغې چې ډېر کم چې ګومان یې کېږي. دا فکر چې استخباراتي او امنیتي ادارې په ډله ییزه توګه د نیوزیلینډیانو څارنه کوي یوه افسانه ده. شاته 2014 ته په کتلو، استخباراتي او امنیتي ادارې په یو نازک حالت کې وې. د بیا جوړولو عمل یې د 2016 کال تر نیمایي لا نه و پیل شوی او تر هغه وخته لا بیا هم پوره شوی نه و کله چې تروریستي برید په 2019 کې وشو.

[۲۸]	زمونږ د ارزونې تمرکز اساساً د 2016 او 15 مارچ 2019 ترمینځ په موده و. ددغې مودې په اوږدو کې تروریزم سره د مقابلې د سرچینو ځانګړی نه ولې اساسي تمرکز په هغه څه و چې د اسلامست افراطي تروریزم د تهدید په صورت کې د رامینځته کېدو په توګه ورته کتل کېدل. ددې خبرې یادونه مهمه ده چې تروریزم سره د مقابلې ادارو داسې اشارې تعقیب کړې وې چې ارتباط یې د ښي نظریې د احتمالي افراطي تروریزم سره و. نو د اسلامي افراطي تروریزم په تهدید تمرکز داسې نه و چې د نورو اشارو د رامینځته کېدو په صورت کې هغوی ته توجو نه کېدله.

[۲۹]	په 2016 کې د نیوزیلینډ امنیتي استخباراتي خدمت واضحه کړې وه چې د نورو تروریستي تهدیدونو د رامینځته کېدلو یو د اساسي خط انځور (پرې پوهېدنه) یو هدف و، اما داسې هدف و چې یوازې هغه وخت کې به یې تعقیبوي کله چې ورسره د داسې کولو ظرفیت وي. دا کار بالاخره په می 2018 کې پیل شو، د یوې داسې پروژې سره چې تمرکز یې نیوزیلینډ کې د ښي نظریې په افراطیت د پوهېدنې په ترلاسه کولو و. په دغه وخت کې د نیوزیلینډ امنیتي استخباراتي خدمت نیوزیلینډ کې د ښي نظریې په افراطیت یوازې ډېره محدوده پوهېدنه لرله او کله چې تروریستي برید رامینځته شو نو په دې کار لا نه و بشپړ شوی.

[۳۰]	د نیوزیلینډ د پولیسو استخباراتي فعالیت کم کړی شوی و او له 2015 راپدېخوا یې د استراتیژیک افراطي تهدید ارزونې نه ترسره کولې.

[۳۱]	زمونږ نتیجه داده چې د اسلامستي افراطي تروریزم په تهدید تروریزم سره د مقابلې د سرچینو تمرکز نامناسب و، اما ددې ددې لپاره دلیلونه لږ چېړل غواړي.

[۳۲]	زمونږ اندېښنه تروریزم سره د مقابلې د سرچینو د تمرکز په اسلامست افراطي تروریزم د پروسې په اړه ده. دا دوه اړخونه لري. لومړی، د تروریزم د نورو احتمالي تهدیدونو کومې اساسي ارزونې نه وې. نو تروریزم سره د مقابلې د سرچینو تمرکز د خطر د پرتلیز تحلیل پر اساس نه و. دویم، په ټول سیستم کې داسې معلوماتي پرېکړه نه وه چې په دې اساس مخته لاړ شي.ددې نه زمونږ مطلب یوه داسې پرېکړه ده چې د عامه سکټور د ټولو اړوندو ادارو لخوا ددې پوهې سره شوې وي چې د تروریزم نور احتمالي تهدیدونه موجود وو په کومو چې ځان پوره نه و پوهه کړی شوی. ددې هم یوه لنډه توضیح لازمي ده.

[۳۳]	د نیوزیلینډ امنیتي استخباراتي خدمت پرېکړه کړه وي چې تروریزم سره د مقابلې خپلې کمې سرچینې د اسلامست افراطي تروریزم د تهدید په رامینځته کېدو متمرکز کړي. ددې دلیل په یوه برخه کې د 2018 تر نیمایي پورې د ظرفیت کمبود و چې د دغه تهدید مقابله وکړي او په عین حال کې په نورو تهدیدونو ځان پوه کړي. د عامه سکټور نورو ادارو چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیلې وې ددې کړنلارې او ددې د تاثیراتو، په ګډون هغو خطرو چې کمې شوې نه وې، په اړه ځان د معلوماتو په اساس بحث کې نه و مصروف کړی. نو داسې معلوماتي او په ټول سیسټم کې پرېکړه نه وه چې په دې اساس مخته لاړه شي کوم چې زمونږ په نظر کې نامناسبه ده.

[۳۴]	دا ټولې خبرې چې وشوې، زمونږ په نظر کې د اسلامي افراطیت د تروریزم په تهدید د سرچینو تمرکز ددې دلیل ندی چې د دغه فرد د تروروستي برید لپاره پلان جوړونه او تیاری کشف شوي نه وو. د هغه فعالیتي امنیت چې دغه فرد ساتلی و، د قانوني واک هغه چاپېریال په کوم کې چې تروریزم سره د مقابلې هڅې فعالیت کوي او تروریزم سره د مقابلې د ادارو محدود توان او ظرفیت په نظر کې نیولو سره ددې کومه د قناعت وړ طریقه موجوده نه وه چې هغه فرد کشف کړی شوی وی البته په چانس سره. د هغو اندېښنو چې مونږ پرې همدا اوس بحث وکړو او نورو سیستمي مسئلو چې مونږ ورته په 8مه برخه: تروریزم سره د مقابلې د هڅې ارزونه کې کتنه کړې ده، دا حقیقت چې دغه کس نه و کشف شوی په خپله استخباراتي ناکامي نه وه.

[۳۵]	مونږ تروریزم سره د مقابلې هڅو ته لا پراخه کتنه کړې ده. مونږ مخکې د محدود ټولنیز جواز، توان او ظرفیت یادونه کړې ده. د تېرې لسیزې تر نیمایي پورې، تروریزم سره د مقابلې، استخباراتو او امنیت سوژې په سیاسي او عامه توګه زهرجنې شوې وې. سیاسي مالکیت ډېر کم و. د عامه سکټور مشرتابه د غیر مرکزي ملي امنیتي سیسټم له لارې خوره وره کړی شوې وه چې له امله یې د عامه سکټور هغه ادارې چې تروریزم سره د مقابلې په هڅه کې دخیلې وې په داسې طریقو یې کار کاوه چې ډېره سُسته هماهنګي یې لرله.

[۳۶]	لکه څنګه چې پرې بحث وشو، د استخباراتي او امنیتي ادارو د ظرفیت او توان بیا جوړېدنه د 2016 په نیمایي کې پیل شوه. هر څو که په دې کې پرمختګ شوی دی، د پام وړ پرمختګ ته لا هم اړتیا ده. په همدې توګه، سیستمي بدلون ته اړتیا ده، چې په هغې کې د یوې ملي استخباراتي او امنیتي ادارې جوړول شامل دي. دا به تروریزم سره د مقابلې او افراطي تاوتریخوالي د مقابلې د هڅو یوه زیاته سیستمي کړنلاره رامینځته کړي. ددې نوې ادارې اجرایي مدیر به د استخباراتو او امنیت په برخه کې ملي مشاور وي، چې په دې سره به ددې ادارې ګټه دا وي چې تمرکز به یې فقط په استخباراتي او امنیتي مسلو وي. دا به د تګلارې جامعه استراتیژیکه مشوره برابروي، تروریزم سره د مقابلې ستراېژي به جوړوي او د ملي امنیت اړونده قانون سازي به اداره کوي. دا اداره به د استخباري ارزونو د جوړولو لپاره مسوولیت په غاړه اخلي، چې په هغې کې به د اُفق معاینه کول مهم وي، او د کارکردګۍ د مدیریت د چوکاټ د طراحي کولو او د هغې خلاف د پرمختګ د څارلو مسوولیت به لري.

[۳۷]	مونږ دا خبره قبلوو چې په داسې حال کې چې زمونږ تمرکز تروریزم سره د مقابلې په هڅو دی زمونږ کلیدي سپارښتنې په ټول سیستم کې د بدلون لپاره دي د کوم ترڅ چې د ټولو تهدیدونو او استخباراتي مسلو سره وي. دا غیر عملي دی چې تروریزم سره د مقابلې د مسوولیتونو خاکه جوړه کړی شي.

[۳۸]	دا او نورې تفصیلي سپارښتنې په 10مه برخه: سپارښتنې کې توضیح کړی شوې دي.

[۳۹]	زمونږ د سپارښتنو په بشپړه توګه د عملي کولو نتیجه به تروریزم سره د مقابلې د هڅو بهتر تنظیم وي tچې د هغې ظرفیت او توان به پراخه وي او د قانون سازۍ چوکاټ به یې کم محدودیت لري. مونږ د لا ډېر زیات سیاسي او عامه ترڅ او بحث او زیات قوي نظارت د لیدلو تمه لرو. ددې نتیجه به لا زیات عامه اعتماد او ټولنیز جواز وي. مونږ ارزو لرو چې تروریزم سره د مقابلې بحث نورمال کړی شي. زمونږ سپارښتنې د داسې کېدلو لپاره میکانزمونه وړاندې کوي.

[۴۰]	تر نن وخته د دې ډول بحث غیاب خپل عواقب لرلي دي.

[۴۱]	د 2015 څخه راپدېخوا پرله پسې حکومتونه دې کې زړه نازړه وو چې د عام ولس په وړاندې تروریزم سره د مقابلې ستراتیژۍ سره مخته لاړ شي. ددې یو دلیل د مسلمانو ټولنو د لا زیات داغدار کولو څخه ځان ژغورل وو. خو، که چیرې دغسې یوه تګلاره عام ولس سره شریکه کړی شوې وی او همداراز په "یو څه ووینه، یو څه ووایه تګلاره" کې رانغښتل شوې وی، نو امکان لري چې د دغه فرد د پلان جوړونې او تیاری په اړه تروریزم سره د مقابلې ادارو ته راپور ورکړی شوی وی. اوس وروسته وخت نه په کټلو سره به دغه ډول راپور د تروریستي برید د ناکاره کولو بهترین چانس رامینځته کړی وی. یوه د عام ولس په وړاندې تروریزم سره د مقابلې ستراتیژۍ کې به په احتمالي توګه د بیروبار والا ځایونو د زیات خوندي کولو او د احتمالي هدفونو له بریده د حفاظت تګلارې هم شاملې کړی شوې وې. ددې ډول تګلارو عملي کولو ښایي په 15 مارچ 2019 مرګ او ژوبله ډېره کمه کړې وی. په همدې توګه، که چیرته دا معلومه خطره چې یو تروریست د نیوزیلینډ د نیمو اتوماتیکو وسلو د سُستو مقرراتو څخه ګټه اخیستلی شي مخکې حل کړی شوې وی، نو ددې احتمال شته چې په 15 مارچ 2019 به تروریستي برید نه وی شوی.

[۴۲]	او په پای کې یو شمېر مسلې دا دي چې ټولنیز پیوستون، ګډون او تنوع ته په نیوزیلینډ کې د نړدې کېدو څه لاره غوره کړی شوې ده مونږ پرې په 9مه برخه: ټولنیز پیوستون او تنوع ته غاړه ورکول کې غور کوو.

[۴۳]	ټولنیز پیوستون، ګډون او تنوع زمونږ په اصلي کاري پلان کې نه وو. خو، څرنګه چې زمونږ څېړنه مخته لاړه او ټولنو سره زمونږ ترڅ ښه ژور شو، نو واضحه شوه چې په دې مسلو هم غور ارزښت لري. ټولنیز پیوستون ډېرو افرادو او ټولنو لپاره نېغ په نېغه ګټې لري. ددې برعکس، هغه ټولنې چې د سیاسي، ټولنیز، کولتوري، چاپېریالي، اقتصادي، نسلي یا مذهبي اختلافاتو له امله تقسیم شوې وي هلته ددې احتمال زیات لیدل کېږي چې رادیکالي مفکورې رامینځته کېږي او پرمختګ کوي. د ټولنیز پیوستون، ګډون او تنوع جوړولو هڅې د افراطیت په مخنیوي او مقابله کې خپل کار کولی شي. برسېره پر دې، یوه داسې ټولنه چې یو بل سره پیوستون، ګډون لري او تنوع ته غاړه ورکوي په خپله یو ښه والی دی.

[۴۴] مونږ په دې غور کړی چې څرنګه د عامه سکټور ادارو، محلي حکومت، خصوصي سکټور، مدني ټولنو او ولسي ټولنو د یوې لا زیاتې یو بل سره پیوستې ټولنې ملاتړ کولی شو او باید کړی یې وی. د عامه سکټور هڅې خورې ورې دي او هغو ټولنیزو ډلو لپاره د ناهیلۍ سبب دي کوم چې ورسره دخیلیدل غواړي. د ټولنیز پیوستون په اړه عامه مکالمه په پام وړ توګه غایب ده. یو ځل بیا زمونږ نتیجه داده چې سیستمي بدلون اړین دی او مونږ خپل فکر په 10مه برخه: سپارښتنې کې توضیح کړی دی.

[۴۵] دې راپور کې 44 سپارښتنې شاملې دي کومې چې پینځه کلیدي برخې چې ارتباط یې تروریزم سره د مقابلې د هڅو، د وسلو د جواز ورکولو سیسټم، تروریستي برید کې د ټولو نه زیاتو اغېزمنو شوو د روانو اړتیاو، زمونږ د مخ په زیاتېدونکي متنوع نفوس لپاره د نیوزیلینډ اقدام او زمونږ د سپارښتنو عملي کېدنې سره دی په ځان کې رانغاړي. دا جزییاتو سره په 10مه برخه: سپارښتنې کې توضیح کړی شوي دي.

[۴۶] ځیني موضوعات او مسلې بیا بیا راځي د کومو وزن چې زمونږ په سپارښتنو د غور کولو پر مهال زیات و. په دوی کې د ټولو نه زیات مهم سختو مسلو سره په علني توګه د مخامخ کېدلو او ورسره د دخیل کېدو اړتیا ده. زمونږ د څېړنې په اوږدو کې مونږ د عامه سکټور هغو فعالیتونو ته کتنه کړې ده چې تړون یې د وسلو د جواز ورکونې د سیسټم، تروریزم سره د مقابلې د هڅو او ټولنیز پیوستون او تنوع ته د غاړې ورکولو سره دی. په دوی کې د هر یو خصوصیت دا دی چې محدود سیاسي ملکیت لري او عامه بحث پرې غایب دی.

[۴۷] په نیم اتوماتیک وسلو د کنټرولونو د سُستوالي د ځوو لسیزو څخه قدرداني کېدله او دا خطر چې یو تروریست ددې څخه فایده اخیستلی شي عن په 2011 کال کې پېژندل شوې وه. خو په دې رژیم کوم د پام وړ سختوالی نه و راغلی چې زیات دلیل یې د وسلو د ټولنې سخت مخالفت و.

[۴۸] د رسنیو تنازعه او په عامه توګه په استخباراتي او امنیتي ادارو او د قانون نافذوونکو ادارو د کار په ځینو اړخونو د عام ولس د باور او اعتماد ټیټې کچې نتیجه دا شوې چې سیاستدانانو تروریزم سره د مقابلې په اړه د عام ولس د دخیلولو د چیلنج څخه ډډه کړې ده.

[۴۹] د ټولنیز پیوستون، ګډون جوړول او تنوع ته غاړه ورکول داسي هدفونه دي چې مونږ ټول یې ارزو کولی شو. د کوویډ19- په وړاندې د غبرګون او جوړېدو په چاپېریال کې چیرته چې د زیات سترس، مخ په زیاتېدونکي ذهني روغتیا او اعتیاد مسلې موجودې دي، احتمالي نابرابرۍ او کمزورۍ زیاتې شوې دي. په داسي حال کې چې هیواد مخ په وړاندې ګوري ددې موقعه شته چې زمنږ ټولنیزې ببخ بناوې او د ټولنې مقاومت په هماغې طریقه جوړ او پراخه کړی شي په کومه چې په فزیکي ببخ بناو کې پانګونه شوې ده. دا په ټول دولت کې د لا زیاتو اقداماتو لپاره یوه قوي قضیه ده چې ټولنیز پیوستون او دا چې مونږ تنوع ته څنګه غاړه ورکړو بهتر کړی شي.

[۵۰] مونږ منو چې په دې مسلو به سیاسي ګډون اسان کار نه وي. ولې د سختو مسلو سره مخامخ کېدل او په اړه یې ازادې عامه مکالمې کول مهم دي. مونږ تروریستي برید نه مخکې د عام ولس په وړاندې تروریزم سره د مقابلې ستراتیژۍ ته د ودې نه ورکولو او په وسلو د سُستو کنټرولونو په عواقبو لا د مخه بحث وکړو. مونږ هیله لرو چې زمونږ راپور به د عام ولس غړي، چاروکي او سیاستدانان دې ته وهڅوي چې ځان په ازاد بحث کې دخیل کړي تر څو هر څوک د

نیوزیلینډ په خوندي، امن او پیوستون کې ساتلو کې په خپل رول او مسوولیتونو ځان پوه کړي.  د هغه دول هیواد په اړه چې نیوزیلینډ یې کېدل غواړي بحث لپاره انګیزه وجود لري.

[۵۱]        په پای کې، نیوزیلینډ به هیڅکله د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم څخه په مصوونیت کې نه وي.  د نړۍ د بهترینو سیسټمونو په موجودګی بیا هم یو مصمم کس چې تروررست کېدل غواړي ښایي راتلونکي کې نیوزیلینډ کې برید ترسره کړی شي.  ولې ډېر داسې کار شته چې دولت یې کولی شي، چې پیل یې نیوزیلینډیانو سره د زیات شفافیت او ازادۍ ته لا زیاته ژمنتیا ده.  مونږ ټول د هغو ارزښتونو چې زمونږ شریک دي او غواړو چې د ټولنې په توګه او د راتلونکو نسلونو لپاره یې ژوندي وساتو په اړه د عامه موافقې په جوړولو کې خپله د لوبولو برخه لرو.

## ترکیبی موندنې

[۱] زمونږ د حوالې شرطونو په مونږ لازمه کړې وه چې په دې موضوعاتو موندنې وکړو:

4(الف) آیا د عامه سکټور اړونده ادارو ته داسې معلومات په لاس ورکړی شوي وو یا ورکول کېدلی شول چې ددې تروریستي برید په اړه یې هغوی ته خبرداری ورکولی شو یا یې باید خبرداری ورکړی وی او که داسې معلومات ورکړی شوي وو یا موجود وو نو ادارو ددغه ډول معلوماتو په وړاندې څه اقدام کړی او دا چې آیا دغه اقدام مناسب و؛

(ب) د عامه سکټور د اړونده ادارو خپل مینځ کې متقابل عمل، په ګډون ددې چې آیا د اړونده ادارو په خپل مینځ کې د معلوماتو د شریکولو په لړ کې کومه ناکامي رامینځته شوې؛

(ت) دا چې آیا د عامه سکټور اړونده ادارې په تروریزم ضد سرچینو د نامناسب تمرکز او یا د نورو تروریستي تهدیدونو د لومړیتوبونو له امله د دې تروریستي برید د ترسره کېدو یا پلان په لیدلو کې ناکام شوې دي؛

(ث) دا چې آیا د عامه سکټور کومه اړونده اداره د لازمو معیارونو په پوره کولو کې ناکام شوې او یا یې بل کوم کمی لرلو، که ټول وي او که یوه برخه؛ او

(ج) نورې معاملې چې د څېړنې د هدف سره تړون لري، تر هغه حده چې د بشپړ راپور د تیارولو لپاره اړین وي.

### د تروریست په اړه د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو کې

[۲] 6مه برخه: د تروریست په اړه د عامه سکټور ادارو ته څه معلوم وو زمونږ د موندنو ثبوت او منطق توضیح کوي.

[۳] د "تروریستي برید" معنا ده هغه تروریستي برید چې د دغه فرد لخوا په تېرو کلونو کې د هغه پلان او تیاری له مخې ترسره کړی شوی و.

[۴] **زمونږ موندنه دا ده چې:**

أ. د دغه فرد په اړه یوازیني معلومات چې د نیوزیلینډ د عامه سکټور ادارو ته د 15 مارچ 2019 نه مخکې معلوم وو چې هغوی یې د تروریستي برید په اړه بیدارولی شول یا یې باید بیدار کړی وی هغه ایمیل و چې د دغه فرد لخوا پارلیماني خدمت ته لیږل شوی و.

ب. پارلیماني خدمت په هغو شرایطو کې د ایمیل په وړاندې چې د تروریستي برید نه لږ مخکې لیږل شوی و د غبرګون په توګه د معقول وخت د مودې دننه مناسب اقدام کړی و؛

ت.      د عامه سکټور کومې اړوندې ادارې ته نور کوم معلومات نه وو وړاندې کړی شوي او نه ورته موجود وو چې هغوی يې د تروروستي برید په اړه بیداروالی شول یا یې باید بیدار کړي وی.

ث.      د عامه سکټور د ادارو ترمینځ د معلوماتو په شریکولو کې کومه ناکامي نه وه.

## تروریزم سره د مقابلې د هڅو ارزونه

[۵]      8مه برخه: تروریزم سره د مقابلې هڅې زمونږ د موندنو ثبوت او منطق توضیح کوي.

[۶]      زمونږ نتیجه داده چې تروریزم سره د مقابلې د سرچینو تمرکز په اسلامست افراطي تروریزم د نیوزیلینډ د امنیتي استخباراتي په 2018 کې د پوهېدنې د پروژې د پیل څخه مخکې مناسب نه و ځکه چې:

أ.      اساس يې د تروریزم د داسې تهدیدونو چې تړون يې د نورو ایډیولوژیو سره وي په معلوماتي ارزونه نه و؛ او

ب.      د ټول سیسټم د داسې یوې پرېکړې نتیجه نه وه چې، د داسې ارزونې د غیاب باوجود، تروریزم سره مقابله باید ادامه وکړي او اختصاص يې تقریباً په ځانګړې ډول د اسلامست افراطي تروریزم تهدید ته وي.

## [۷]      زمونږ موندنه دا ده چې:

أ.      د اسلامست افراطي تروریزم په تهدید د سرچینو نامناسب تمرکز ددې نتیجه نده شوې چې تروروستي برید لپاره د دغه فرد پلان جوړونه او تیاری نه وو کشف شوې. او په همدې دلیل، د عامه سکټور هغه ادارې چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیلې دي تروریزم سره د مقابلې د سرچینو د نامناسب تمرکز له امله د دغه تروروستي برید د تمې یا پلان په چارو کې ندي ناکام شوې.

ب.      د عامه سکټور هیڅ اداره چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیله ده په دې کې نده ناکامه شوې چې لازم معیارونه پوره کړي او په دې اړه هم د کومې مادي غلطۍ مرتکب شوې نه وه چې تروروستي برید لپاره د دغه فرد پلان جوړونه او تیاري يې نه وه کشف کړې.

## د وسلو جواز

[۸]      5مه برخه: د وسلو جواز زمونږ د موندنو ثبوت او منطق توضیح کوي.

[۹] زمونږ موندنه دا ده چې:

أ. (الف) د نیوزیلینډ پولیس د وسلو د جواز ورکولو د سیستم په اداره کې د لازمو معیارونو په پوره کولو کې په دې توګه ناکام شوي دي:

I. د وسلو راهنما کتابچه، د وسلو د جواز لارښود او د وسلو د جواز ورکولو لارښود د هغو درخواستونه د پروسس کولو په اړه جامعه او بشپړه لارښوونه نه وه وړاندې کړې په کومو کې چې درخواست ورکوونکي داسې نږدې خپلوان ریفري نشو ورکولی چې په حضوري توګه ورسره مرکه کېدلی شوی؛

II. د نیوزیلینډ پولیسو ددې خبرې د یقیني کولو لپاره داسې انتظامات نه وو عملي کړي چې د وسلو د جواز ورکولو عملې د خپل کار لپاره سیستمي روزنه او مرتبې بیا کتنې ترلاسه کړې وی؛ او

III. د دغه فرد د وسلو د جواز په درخواست کار کولو کې د نیوزیلینډ پولیسو دا مسله په مناسبه توګه نه وه حل کړې چې آیا ګیم کوونکي دوست او د هغه مور/پلار دغه فرد دومره ښه پېژندلو چې د ریفریانو په توګه معرفي شي.

## د سپارښتنو لنډیز

[۱] زمونږ د حوالې شرطونو مونږ ته لارښوونه کړې وه چې په لاندې موضوعاتو داسې سپارښتنې وکړو چې مناسبې ګڼل کېږي:

5(۱)(الف) آیا د [عامه] سکټور اړوندو ادارو لخوا د معلوماتو غونډولو، شریکولو او د تحلیل چارو کې کومه داسې بهتري راوستلی شوې ده چې ددغه تروریستي برید مخنیوی یې کولی شو، یا راتلونکي کې ددغه ډول تروریستي بریدونو مخنیوی کولی شي، چې په هغې کې دا شامل دي، خو تر دې محدود نه، د معلوماتو د ښکاره کولو، شریکولو او د [عامه] سکټور اړوندو ادارو ترمینځ کې یو بل سره د برابرولو وخت او زمان، دقت، اغېز او هماهنګي؛ او

(ب) کوم بدلونه، که چیرې وي، باید عملي کړی شي تر څو راتلونکي کې د دې ډول تروریستي بریدونو د مخنیوي د یقیني کولو لپاره د [عامه] سکټور د اړوندو ادارو سیستمونه یا عملیاتي چارې بهترې کړی شي؛ او

(ت) نورې هغه معاملې چې د پورته سره تړون لري، تر هغه حده چې د بشپړ راپور د برابرولو لپاره اړین وي.

[۲] زمونږ سپارښتنې په 10مه برخه: سپارښتنې که توضیح شوې دي او د لاندې موضوعاتو په اړه دي:

أ. د نیوزیلینډ تروریستی سره د مقابلې هڅې بهترول.

ب. د نیوزیلینډ د وسلو د جواز ورکولو د سیستم بهترول.

ت. د 15 مارچ 2019 تروریستي برید د اغېزمنو شوو خپلو خپلوانو، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو د رواني بهترۍ د اړتیاو ملاتړ کول.

ث. زمونږ مخ په زیاتېدونکي متنوع نفوس ته د نیوزیلینډ غبرګون بهترول.

ج. د سپارښتنو عملي کول.

[۳] دا سپارښتنې همداراز ددې څلورو موضوعاتو په ترتیب تنظیم شوې دي:

[۴] **د دولت قوي رهبري او لارښوونه ددې لپاره لازمي دي** چې تروریزم سره د مقابلې د هڅو اغېزمن نظارت او احتساب برابر کړي. دا به یقیني کړي چې په ملي، سیمه ییزو او محلي کچو د کمولو، امادګۍ، اقدام او بهترۍ په ټولو چارو کې په رول او مسوولیتونو ځان ښه پوه کړی شوی وي او سرچینې په تناسب سره متمرکز کړی شوې وي.

[۵]	د دولت قوي رهبري او لاربښوونه دې لپاره هم لازمي دي چې د نیوزیلینډ (او په ځانګړي ډول د عامه سکټور) موقعیت داسې کړي چې د نیوزیلینډ مخ په زیاتېدونکې متنوع نفوس ته غبرګون وښيي او خپل یې کړي او داسې ټولنیز بدلون رامینځته کړي کوم چې به د وخت په تېرېدو سره د یو خوندي او همه شمول نیوزیلینډ په جوړولو کې کومک وکړي.

[۶]	**یو دخیل او د احتساب وړ دولت** به د عامه سکټور تګلارې، پروګرامونه او خدمتونه په دې وتوانوي چې داسې جوړ او ورسول شي چې د نیوزیلینډ مخ په زیاتېدونکې متنوع ټولنې په شرایطو پوره وي. عامه سکټور (او په ځانګړي ډول هغه اداري چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیل دي) ټولنو سره د دخالت په طریقو کې بدلون ته اړتیا لري. د عامه سکټور ذهنیت باید داسې شي چې د پرېکړو په کولو، شفافیت او قوي بحث کې ګډون کې د ټولنو نظرونو ته ارزښت ورکړي.

[۷]	**د نیوزیلینډ په خوندي او همه شمول جوړولو کې په ټولنه کې هر څوک رول لري**

خو په دې اړه عامه پوهېدنه نشته چې دغه رول څشی دی، د یو بل سره څه تړون لري او باید د څشي د لاسته راوړلو لپاره وي. د رول او مسوولیتونو وضاحت مهم دی.

[۸]	ددې خبرې د یقیني کولو لپاره چې هر څوک د نیوزیلینډ په خوندي او همه شمول کولو کې د خپل رول نه خبر وي، دولت (او د عامه سکټور هغه اداري چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې دخیلې دي) باید دا خبره یقیني کړي چې تروریزم سره د مقابلې هڅو ته د هغو خلکو چې دوی یې حفاظت کول غواړي لخوا ارزښت ورکول کېږي. تروریزم سره د مقابلې په لړ کې د نیوزیلینډ په هڅو د عامه ولس د باور او اعتماد پراخول به وخت ونیسي، نو هغه کار چې ترسره کول غواړي باید عاجل پیل شي. په همدې توګه، حکومت باید په دې ځان پوه کړي چې د نیوزیلینډ بدلېدونکی نفوس نیوزیلینډ لپاره د ټولنې په توګه څه معنا لري او د یوې متنوع او همه شمول ټولنې د فایدو په اړه باید ثابتو پیغامونو ته وده ورکړي.

[۹]	ددې ټولو اهمیت ته په کتلو سره، **نیوزیلینډ داسې قوانینو او تګلارو ته اړتیا لري چې د هدف لپاره مناسب وي.** په دې کې دا خبره یقیني کول راځي چې د 2017 د استخباراتو او امنیت قانون او د 2002 د تروریزم د ځپلو قانون د هدف لپاره مناسب وي، چې په هغې کې د کرکې جرمونه پکې راوستل، د نفرتي تقریرونو په وړاندې یوه کاري کړنلاره جوړول او د نفرتي جرمونو د راپورونو بهتر ریکارډولو ته هڅول. همدارنګه د نیوزیلینډ د پولیسو لپاره دا اړتیا مهمه ده چې د وسلو د جواز ورکولو د سیستم خپل اداره بهتره کړي.

# تروریزم سره مقابلې لپاره د نیوزیلینډ د هڅو د بهترولو لپاره سپارښتنې

## مونږ سپارښتنه کوو چې دولت:

[۱] **یقیني کړي** چې یو وزیر ته تروریزم سره د مقابلې د هڅو د مشرۍ او هماهنګۍ مسوولیت او احتساب ورکړی شي.

[۲] **یوه نوې** ملي استخباراتي او امنیتي اداره جوړه کړي کومه چې پوره سرچیني لري او په قانوني توګه واک ورکړل شوی وي چې د ستراتیژیکو استخباراتو او امنیتي رهبرۍ د فعالیتونو لپاره مسوولیت لري چې په هغې کې شامل وي:

أ. الف. یو اجرایي مدیر چې لومړي وزیر او کابینې ته د استخباراتي او امنیتي مشاور په توګه ټاکل شوی وي او د امنیت او استخباراتو مشرتابه هیئت یا د احتمالي نوې حاکمې ادارې مشري کوي (سپارښتنه 3)؛

ب. داسې فعالیت کول چې سکټور ستراتیژیکي استخباراتي او امنیتي مسلې مخته وړي او هماهنګ کوي؛

ت. تروریزم سره د مقابلې یوه داسې ستراتیژي جوړول په کومه کې چې د افراطي تاوتریخوالي سره مقابله شامله وي (سپارښتنه 4)؛

ث. په استخباراتي او امنیتي مسلو د ستراتیژیکې تګلارې مشوره مسوول وزیر(مسوولو وزیرانو) ته برابرول؛

ج. استخباراتي ارزونه او د اُفق معاینه کول چې ملاتړ یې د ژور تخصص لخوا وي؛

ح. د ستراتیژیکو استخباراتو او امنیتي مسلو په اړه ولسي ټولنو، مدني ټولنې، محلي دولت او خصوصي سکټور سره د ټرون مشري کول؛

خ. یقیني کول چې تروریزم سره د مقابلې هڅې د نیوزیلینډ بشري حقونو لپاره د کورنیو او نړیوالو مکلفیتونو سره سم وي؛

د. په محلي او سیمه ییزو کچو د عاجل مدیریت جوړښتونه ګټې ته چمتو کول؛

ذ. د سیستم د کارکردګۍ نظارت او راپورونه؛ او

ر. تروریزم سره د مقابلې د هڅو د کارکردګۍ لپاره د وزیر په وړاندې احتساب (سپارښتنه 1).

[۳] **د امنیت** او استخباراتو د مشرتابه د داوطلب نوعیت لپاره د متبادلو میکانزمونو تحقیق کول چې په هغې کې د یو خپلواک اجرایي مشرتابه جوړول شامل دي څرنګه چې د 2020 د عامه خدمت د قانون لخوا اجازه ورکړی شوې، چې په هغې کې د نورو شیانو تر څنګ دا شامل دي:

(الف) د عامه سکټور په اړوندو ادارو کې هغه کار، پلان جوړونه او بودیجې ردیفول او هماهنګ کول چې ټولې استخباراتي او امنیتي مسلې حل کوي؛

(ب) د هر درې میاشتو پر اساس د کابینې د خارجي اړیکو او امنیت کمیټې ته راپور ورکول چې په هغې کې اوسمهاله او رامینځته کېدونکې خطرې او تهدیدونه شامل وي.

(ت) تروریزم سره د مقابلې د هڅو په تړاو:

i. کابینې ته د افراطیت د حل کولو او د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم د موجوده او رامینځته کېدونکو تهدیدونو د مخنیوي، کشف او په وړاندې یې اقدام کولو د ستراتیژۍ لپاره سپارښتنه کول چې د ملي استخباراتو او امنیت د ادارې لخوا طراحي کړی شوی وي (سپارښتنه 4)؛ او

ii. دا خبره یقیني کول چې د ستراتیژۍ د عملي کولو فعالیتونه چې د افراطیت د حل کولو او د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم د موجوده او رامینځته کېدونکو تهدیدونو د مخنیوي، کشف او په وړاندې یې د اقدام کولو لپاره وي وپیژندل، هماهنګ او وڅارل شي.

[۴] **یوه د عام** ولس مخې ته داسې ستراتیژي جوړه او عملي کړي چې د افراطیت موضوع حل کوي او د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم موجوده او رامینځته کېدونکو تهدیدونو د مخنیوي کوي، کشفوي یې او په وړاندې یې اقدام کوي، کوم چې:

أ. د نوی ملي استخباراتي او امنیتي ادارې لخوا رهبري کېږي (2مه سپارښتنه )؛

ب. ولسي ټولنو، مدني ټولنې، محلي دولت او خصوصي سکټور سره په همکارۍ کې جوړه کړی شوې وي؛

ت. د ستراتیژۍ هدف او طرف د هدفونو، تادابونو او د کارکردګۍ د تدابیرو سره ټاکي؛

ث. د کمولو، امادګۍ، اقدام او بهترۍ په ټولو چارو کې تروریزم سره د مقابلې د هڅو لپاره لومړیتوبونه ټاکي؛

ج. د کمولو، امادګۍ، اقدام او بهترۍ په ټولو چارو کې د ستراتیژۍ په عملي کولو کې د عامه سکټور د ادارو، ولسي ټولنو، مدني ټولنې، محلي حکومت او خصوصي سکټور لپاره رول او مسوولیتونه تعریف کړي؛

ح. د مسوول وزیر لخوا نظارت ولري (1مه سپارښتنه)؛ او

خ. د خپراوي نه وروسته درې کلونو کې دننه د عامه سکټور د ادارو، ولسي ټولنو، مدني ټولنې، محلي حکومت، خصوصي سکټور او تروریزم سره مقابلې لپاره مشورتي ډلې سره په همکارۍ کې بیاکتنه شوی وي (7مه سپارښتنه).

[۵] د 1989 د عامه مالي چارو په قانون کې **ترمیم وشي** تر څو په استخباراتي او امنیتي ادارو لازمي شي چې داسې د کارکردګۍ معلومات برابر کړي چې د عمومي محتسب لخوا د کارکردګۍ د احتساب لاندې وي.

[۶] **د پارلیمان** د استخباراتو او امنیت د کمیټې رول قوي کول تر څو هغه په ټول پارلیمان کې د ملي امنیتي سیستم چې په هغې کې تروریزم سره د مقابلې هڅې شاملې وي بهتر او د معلوماتو پر اساس نظارت کولی شي او غړي د داسې نظارت د اړتیا لپاره حساسو معلوماتو ته لاسرسی کولی شي.

[۷] **د استخباراتو** او امنیت د نوې ملي ادارې اجرائیوي رییس ته لارښوونه کول (سپارښتنه 2) چې تروریزم سره مقابلې لپاره مشورتي ډله جوړه کړي:

(الف) چې د استخباراتو او امنیت ملي ادارې او د امنیت او استخباراتو مشرتابه هیئت یا د هغې ځایناستي ته د مشورې ورکولو مسوولیت به په غاړه لري سپارښتنې 2 او 3)؛ او

(ب) وظیفې به یې ټاکل کیږي، په قانون سازۍ کې او هر څومره زر چې کېدی شي د عملي کېدو وړ، اما جوړول یې د ځنډ نه بغیر.

[۸] **د استخباراتو** او امنیت د نوې ملي ادارې اجرائیوي رییس ته لارښوونه کول (سپارښتنه 2) چې ملي امنیت او استخباراتو ته په مشوره کې لومړیتوبونه او د تهدیدونو په کلني راپور کې (سپارښتنه 17) د هغې مشورې یو لنډیز وړاندې کړي چې د هغې نه مخکې کال کې تروریزم سره د مقابلې د مشورتي ډلې ورکړی شوې وه (سپارښتنه 7) او د هغو اقداماتو چې ددغې مشورې په غبرګون کې ترسره شوي دي.

[۹] **د استخباراتو** او امنیت نوې ملي ادارې (سپارښتنه 2) او په انتقالي دوره کې د لومړي وزیر او کابینې محکمې ته لارښوونه وکړي چې د استخباراتو او امنیت د معلوماتو د شریکولو عملونه بهتر کړي، چې په هغوی کې شامل دي:

(الف) د عامه سکټور په ټولو اړوندو ادارو کې د "پوهېدلو ته اړتیا" د اصل لپاره کړنلاره کې بدلون ته لاره برابرول، چې په هغې کې ځانګړې توجو په محلي حکومت وي په شمول د عاجل حالت د مدیریت د جوړښتونو په محلي او سیمه ییزه کچه، تر څو دا خبره یقیني شي چې دا د معلوماتو د شریکولو د محدودولو په ځای ددې توان پیدا کوي؛ او

(ب) د شپږو میاشتو دننه د هغو سپارښتنو د عملي کولو نظارت کول کوم چې د 2018 د نیوزیلینډ د امنیتي محرمیت د سیستم کتنه کې ورکړی شوې وې:

(i) د محرمیت د سیستم اصلونه پراخول تر څو دې ته لاره برابره کړي چې هیڅ معلومات د

لامحدود وخت لپاره محرمانه نه وي او، کله چې د محرميت د درجې په اړه شک وي، نو معلومات په ټيټه کچه محرمانه کېږي؛

(ii) د عامه سکټور د اداري لاربښوونه بيا کتل او قوي کول او د ټريننګ جوړول؛

(iii) د تاريخي ريکارډونو د سيستماتيک نامحرم کولو لپاره د موضوع پر اساس کړنلاره خپلول؛ او

(iv) د درجه بندۍ د سيستم د فعاليت او کارکردګۍ ښکاره کوونکي جوړول.

[۱۰] قراردادونو ته د نبغ په نبغ لاسرسي په تړاو کې د 2017 د استخباراتو او امنيت قانون کې ترميم کول، تر څو د استخباراتو او امنيت په نوې ملي اداره، او په انتقالي دوره کې د لومړي وزير او کابينې په محکمه لازمي کړی شي چې تروريزم سره د مقابلې د هڅو مسوول وزير ته په مرتب توګه د هغوی د جوړولو او عملي کولو په اړه راپور ورکړي.

[۱۱] د عامه سکټور د هغو ادارو چې تروريزم سره د مقابلې په هڅو کې دخيلې دي اجرائيوي رييسانو ته لاربښوونه کول چې په دې خبره غور وکړي چې آيا د هغو کارمندانو چې په امنيتي توګه پاک موندل شوي مناسب شمېر لري او دا خبره يقيني کړي چې دغه عمله اسانتياو، د معلوماتو مديريت او د ټکنالوجۍ سيستمونو ته مناسب لاسرسی ولري تر څو وتوانېږي د لزوم په صورت کې اړوندو موادو ته کتنه وکړی شي.

[۱۲] د راپور ورکولو يو داسې د لاسرسي وړ سيستم جوړ کړي او وده ورته ورکړي کوم چې د عام ولس غړي په دې توانوي چې اندېښنه پيدا کوونکي چلندونه او پېښې په اسانه او خوندي توګه د دولت دننه يوې واحدې د تماس نکتې ته راپور کوي.

[۱۳] داسې ښکاره کوونکي او د خطر فاکتورونه جوړ او خپاره کړي چې عام ولس ته داسې مشخص چلندونه واضحه کړي کوم چې د يو نفر د افراطي تاوتريخوالي او تروريزم سره د تړون پوتنسيال ښکاره کوي او د تهديد د نقشې په تکامل سره دغه په باقاعده توګه اپډيټ کړي.

[۱۴] يو داسې پروګرام جوړ کړي چې په لاندې شرايطو د افراطي تاوتريخوالي او تروريزم د سببونو او د هغې د مخنيوي د تدابيرو په باره کې د خپلواک او نيوزيلېنډ سره مشخص تحقيق ته بوديجه ورکړي:

(الف) د استخباراتو او امنيت ملي ادارې (سپارښتنه 2) ته بايد د تحقيق د بوديجې لپاره د ډېرو کلونو اختصاص ورکړی شي؛

(ب) د تحقيق لومړيتوبونه او د مالي بوديجې ترلاسه کوونکي بايد د يو داسې پينل لخوا انتخاب کړی شي چې د استخباراتو او امنيت د نوې ملي ادارې د چارواکو (سپارښتنه 2) او تروريزم سره د مقابلې لپاره د مشورتي ډلې د استازو (سپارښتنه 7) څخه ترکيب شوی وي، چې د مشورتي ډلې استازي به د انتخاب د پينل اکثريت تشکيلوي؛ او

(ت) د مالي بوديجې ترلاسه کوونکي باید وهڅول شي چې افراطیت او د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم د موجودو او رامینځته کېدونکو تهدیدونو د مخنیوي، کشف او په وړاندې یې د اقدام کولو سره مربوطو مسلو باندې د خپل تحقیق نتیجې په کلنۍ غونډه کې خپرې او وړاندې کړي (سپارښتنه 16).

[۱۵] نیوزیلینډ کې په افراطیت د عامه ولس د پوهاوي او د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم د موجوده او رامینځته کېدونکو تهدیدونو د مخنیوي، کشف او په وړاندې یې د اقدام د بهترۍ لپاره مواقع رامینځته کړي د کوم مشري چې په لومړي سر کې د ملي امنیت او استخباراتو وزیر کوي، او په دې موضوعاتو باندې پکې د عامه ولس روان بحث شامل وي:

(الف) د نیوزیلینډ تروریزم سره د مقابلې د هڅو نوعیت، د موجوده خطرو او تهدیدونو په شمول او دا چې د عامه سکټور اداري څرنګه نیوزیلینډیان د تروریزم د تهدید او خطر څخه محفوظوي؛

(ب) تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې څوک دخیل دي او د هغوی رول، ددې خبرې په رسمیت پېژندلو سره چې ولسي ټولنې، مدني ټولنه، محلي دولت او خصوصي سکټور ټول تروریزم سره د مقابلې د هڅو برخه دي په دې توګه چې هغوی د معلوماتو مهمې سرچینې دي، البته تر دې محدود ندي؛

(ت) د افرادو د رازداري او د افرادو او ټولنو د امنیت ترمینځ د توازن د رامینځته کولو اړتیا او د عامه سکټور د ادارو لپاره په ټولنیز جواز پوهېدنه چې تروریزم سره د مقابلې او د افراطي تاوتریخوالي د مخنیوي په فعالیتونو کې دخیل واوسي؛

(ث) د عام ولس دې باندې پوهېدو کې کومک کول چې کله داسې اندېښمن چلندونه یا پېښې وپېژني چې ښایي د یو نفر په افراطي تاوتریخوالي یا تروریزم کې د ګډون پوتنسیال ښکاره کوي نو څنګه باید اقدام وکړي؛ او

(ج) ټولنیز پیوستون، ټولنیز ګډون او تنوع څنګه یوې اغېزمنې ټولنې ته ګټه رسوي.

[۱۶] د استخباراتو او امنیت د نوې ملي ادارې اجرائیوي رییس ته لارښوونه وکړي (سپارښتنه 2) چې د یوې کلنۍ غونډې کوربه توب وکړي تر څو د مرکزې او محلي حکومت ټولې اړوندې ادارې، ولسي ټولنې، مدني ټولنه خصوصي سکټور او څېړنکاران ورته راوغواړي (سپارښتنه 14) تر څو په دې طریقه ارتباطات جوړ کړي او د افراطي تاوتریخوالي او تروریزم پوهاوی شریک کړي.

[۱۷] په قانون سازۍ کې لازمي کړي:

(الف) د ملي امنیت او استخباراتو په وزیر چې د هرې پارلیماني دورې پر مهال د ملي امنیت او استخباراتو لومړیتوبونه خپاره کړي او هغه د پارلیمان د استخباراتو او امنیت کمېټې ته د غور لپاره وړاندې کړي؛

(ب) په مسوول وزیر چې د تهدید د اندازې یو کلنی راپور خپور کړي؛ او

(ت) د پارلیمان په استخباراتي او امنیتي کمېټه چې د ملي امنیت او استخباراتو د لومړیتوبونو په اړه وړاندیزونه او د تهدید د اندازې کلنی راپور ترلاسه کړي او غور پرې وکړي.

[۱۸] تروریزم سره د مقابلې د هڅو سره اړوند د ټولې قانون سازۍ بیا کتنه کول (په ګډون د 2002 د تروریزم د ځپلو د قانون او د 2017 د استخباراتو او امنیت د قانون) تر څو دا خبره یقیني کړي چې اوسمهاله دی او د عامه سکټور اداري وتوانوي چې په اغېزمنتیا فعالیت وکړي، د تروریزم د ځپلو قانون کې تروریزم نه د مخکې جرمونو د رامینځته کولو غور ته لومړیتوب ورکول، په هدفي کشف او د بوداپست د کنوانسیون د موافقت او تطبیق په لړ کې د استخباراتو او امنیت د قانون د 19م برخې اغېز ته عاجل بیاکتنه کول.

## د نیوزیلینډ د وسلو د جواز ورکولو د سیستم د بهترولو لپاره سپارښتنې

## مونږ سپارښتنه کوو چې دولت:

[۱۹] **د نیوزیلینډ** پولیسو (یا بلې اړوندې ادارې) ته لارښوونه وکړي چې د وسلو د جواز ورکولو د سیستم د صفا او قانون سازۍ سره سم جوړولو لپاره تګلارې او عملیاتي معیارونه او لارښوونه جوړه کړي.

[۲۰] **د نیوزیلینډ** پولیسو (یا بلې اړوندې ادارې) ته لارښوونه وکړي چې د وسلو د جواز د درخواستونو د پروسس کولو لپاره یو الکترونیکي سیستم معرفي کړي.

[۲۱] **د نیوزیلینډ** پولیسو (یا بلې اړوندې ادارې) ته لارښوونه وکړي چې دا خبره یقیني کړي چې د وسلو د جواز ورکولو عمله په باقاعده توګه روزل کېږي او د هغوی د کار کیفیت ته وخت په وخت کتنې ترسره کېږي.

[۲۲] **د نیوزیلینډ** پولیسو (یا بلې اړوندې ادارې) ته لارښوونه وکړي چې داسې د کارکردګۍ ښکاره کوونکي معرفي کړي چې د وسلو د جواز د سیستم په اغېزمن تطبیق تمرکز کوي. په کلیدي ښکاره کوونکو کې باید شامل وي:

(الف) د دې خبرې د یقیني کولو لپاره چې ملي معیارونه پوره کېږي د وسلو د جواز د عملې د کارکردګۍ مرتب نظارت؛ او

(ب) د وسلو د جواز ورکولو سیستم کې د عامه ولس زیات شوی اعتماد (چې د نیوزیلینډ د پولیسو د اتباعو د رضایت د سروې په راپورونو یا ورته میکانزم سره ناپ شوی وي).

[۲۳] **د نیوزیلینډ** پولیسو (یا بلې اړوندې ادارې) ته لارښوونه وکړي د هغو درخواست کوونکو په قضیه کې دا دوه نوې پروسې لازمي کړي کومو چې د درخواست نه مخکې لس کاله موده کې د پام وړ وخت لپاره د نیوزیلینډ نه بهر ژوند تېر کړی وي:

(الف)   په درخواست ورکوونکو باید لازمي شي چې د هغو هیوادونو څخه د پولیسو یا د جنایي تاریخچې کتنې وړاندې کړي په کومو کې چې هغوی مخکې اوسېدلي وي؛ او

(ب)  که درخواست ورکوونکی داسې نږدې خپلوان یا نږدې ملګري نه لري چې په نیوزیلینډ کې اوسېږي نو د وسلو د جواز ورکولو افسران باید د ټکنالوجۍ په کارولو سره هغو د فامیل غړو یا نورو نږدې کسانو سره چې نورو هیوادونو کې اوسېږي مرکه وکړي.

[۲۴]        **د صحي مسلکیانو** لخوا د وسلو د زخمونو په اړه د نیوزیلینډ پولیسو ته راپور ورکول اجباري کړي.

## د اغېزمنو شوو whānau، ژوندو پاتې شوو او ګواهانو د بهترۍ د روانو اړتیاو د حمایت لپاره سپارښتنې

## مونږ سپارښتنه کوو چې دولت:

[۲۵]        **د ټولنیزې پرمختیا** وزارت ته لارښوونه وکړي چې د نیوزیلینډ د پولیسو، د پېښې د جبران د کارپوراسیون، د عدلیې وزارت، د نیوزیلینډ د مهاجرت اداري او غیر دولتي سازمانونو په ګډون د عامه سکټور اړوندو ادارو ته لارښوونه وکړي چې د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندو پاتې شوو او شاهدانو د رواني بهترۍ د حمایت ته د هماهنګ لاسرسي اسانتیا پیدا کړي، چې په هغې کې هر whānau ، ژوندي پاتې شوي او شاهد ته یوه واحده د تماس دوامي نکته ټاکل دي کومه چې به د هغوی په نمایندګۍ د عامه سکټور ټول لازم حمایت د هغوی لپاره پیدا کوي.

[۲۶]        **د یو داسې ډله ییز** اغېز د شبکې یا مشرتابه هیئت یا بل کوم اړوند میکانزم په جوړولو تحقیق وکړي چې د عامه سکټور ادارې، غیر دولتي سازمانونه او اغېزمن شوي whānau ، ژوندي بچ شوي او شاهدان وتوانوي چې په یو داسې مشخص کاري پروګرام موافقه وکړي کوم چې اغېزمنو whānau ، ژوندي بچ شوو او شاهدانو ته روان تیار خدمتونه وړاندې کړي.

[۲۷]        **د لومړي وزیر** او د کابینې محکمې ته د عامه سکټور اړوندو ادارو سره په همکارۍ کې لارښوونه وکړي چې د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید د اغېزمنو شوو whānau ، ژوندي بچ شوو او شاهدانو سره په دې بحث وکړي چې هغوی د ژوند د بېرته جوړولو کومو عدالتي پروسو، که چیرته وي، ارزو لري او دغسې پروسې څرنګه جوړېدلی او سرچینې ورته برابرېدلی شي.

## د ټولنيز پيوستون او د نيوزيلينډ د مخ په زياتېدونکي متنوع نفوس په وړاندې غبرګون لپاره سپارښتنې

## مونږ سپارښتنه کوو چې دولت:

[۲۸] **اعلان وکړي** چې د ټولنيز پرمختيا او کار وزير او د ټولنيزې پرمختيا وزير د ټولنيز ګډون په شمول د ټولنيز پيوستون د جوړولو لپاره د دولت د ټولې کړنلارې د هماهنګ کولو مسووليت او احتساب په غاړه لري.

[۲۹] **د ټولنيزې** پرمختيا وزارت ته لارښوونه وکړي چې د ټولنيز پيوستون په ستراتيژيک چوکاټ کې او يو د نظارت او تکامل د بنې د جوړولو په لړ کې ولسي ټولنو، مدني ټولنې، محلي حکومت او خصوصي سکټور سره مکالمه او همکاري وکړي.

[۳۰] **يوې داسې** ادارې لپاره د دولتي غوراويو د مشينرۍ تحقيق وکړي د کومې تمرکز چې په اتنيکي ټولنو او ګڼ کولتوريت وي او يوه داسې هدف سره مناسبه تشکيلي طرحه جوړه کړي کومه چې د اتنيکي ټولنو د دفتر اوسني متوقع فعاليتونه په ځان کې رانغاړي او د عامه سکټور نوې مسوولې ادارې توانوي چې په لاندې وظيفو تمرکز وکړي او ترسره يې کړي:

أ. دولت او د عامه سکټور ادارو ته د هغو لومړيتوبونو او چيلنجونو په اړه مشورې ورکړي کومې چې په اتنيکي ټولنو په سلامتيا اغېز کوي؛

ب. د اتنيکي ټولنو د سلامتيا د بهترۍ لپاره د عامه سکټور د هڅو، دغه هڅې به څه وي او څنګه ورته بايد لومړيتوب ورکړی شي د تحليل، نظارت او تکامل لپاره ډاټا راغونډه او ترې استفاده وکړي؛ او

ت. يو داسې تکاملي چوکاټ جوړ کړي چې هغه د کارکردګۍ ښکاره کوونکي په ځان کې رانغاړي کوم چې د اتنيکي ټولنو د سلامتيا په لړ کې د دولت د تګلارو او پروګرامونو د اغېز او تاثير د معاينه کولو لپاره وي.

[۳۱] **د ټولنيز ګډون** په شمول د ټولنيز پيوستون د مناسبو تدابيرو او ښکاره کوونکو (لکه د ژوند د کولو معياري چوکاټ) جوړولو ته لومړيتوب ورکړي.

[۳۲] د **عامه سکټور** ادارو باندې لازمي کړي چې د نيوزيلينډ په تيزۍ سره بدلېدونکې ټولنې د تحليل او پرې د مشورې ورکولو د حمايت، د معلوماتو پر اساس بهترې تګلارې جوړولو او د تګلارې د تکامل د پراخوالي په لړ کې په نسلي او مذهبي ډيموګرافيکو د ډاټا راغونډولو ته لومړيتوب ورکړي.

[۳۳] **تروريزم سره** مقابله کې ښکېلو د عامو سکټور ادارو اجرائيه رييسانو ته لارښوونه وکړي چې د مشرتابه د رول په ګډون او تروريزم سره د مقابلې د مشورتي ډلې سره په مشاورت

کې د کاري ځواک په تنوع کې د پام وړ زیاتوالي په راوستلو تمرکز ته ادامه ورکړي (سپارښتنه 7).

[۳۴] د عامه خدمت کمیشنر وهڅوي چې یو کلنی راپور خپور کړي کوم چې:

أ. د عامه سکټور لخوا د Papa Pounamu په ژمنتیاو پرمختګ ته یوه جامعه کتنه وړاندې کوي په ګډون د هغو منطقو د پیژندلو په کومو کې چې د عامه سکټور دغه اداری ښه کارکردګي ترسره کوي، هغو منطقو په کومو کې بهتری راوستل کېدلی شي او په دې اړه ټولو ادارو کې انتقادي نظرونه چې خپلې هڅې باید کوم لوري ته بوځي؛ او

ب. په هغه پرمختګ راپور ورکولو ته لومړیتوب ورکوي چې تروریزم سره د مقابلې په هڅو کې د عامه سکټور دخلیلو ادارو کړی وي.

[۳۵] **د عامه خدمت** کمیشنر وهڅوي چې د کاري تنوع په پام وړ توګه زیاتولو او په لومړۍ، دویمه او دریمه درجه کې د عامه خدمت د مشرتابه په رول کې د متنوع قابلیت د جلبولو لپاره خپلو تمرکزي هڅو ته ادامه ورکړي.

[۳۶] **ځوانو نیوزیلینډیانو** لپاره په داسې مواقعو کې پانګونه وکړي چې هغوی خپل رول، حقونه او مسوولیتونه زده کړي او د نسلي او مذهبي تنوع، همه شمولیت، د شخړې حل، مدني سواد او د ځان تنظیمولو لپاره وي.

[۳۷] **ټولو نیوزیلینډیانو** لپاره د مسوول وزیر - د ټولنیزې پرمختیا او کار د وزیر- په مشرۍ د عامه ولس د باقاعده مکالمو لپاره مواقع پیدا کول تر څو هغوی پکې په دې موضوعاتو خپله پوهه شریکه کړي او خپل پوهاوی بهتر کړي:

أ. د ټولنیز همه شمولیت په شمول ټولنیز پیوستون او دې ته د رسېدلو لپاره لازمي ډله ییزې هڅې؛ او

ب. هغه ارزښت چې کولتوري، اتنیکي او مذهبي تنوع یې یوې په ښه طریقه فعالیت کوونکې ټولنې ته ورکوي.

[۳۸] **ټولنو سره** د عامه سکټور ټول تماس او تړون لازمي کړي چې د نیوزیلینډ د ازاد دولت د شراکت د ژمنتیاو (New Zealand's Open Government Partnership) سره سم وي او په ځانګړي ډول:

أ. په ادارو لازمي کړي چې ټولنو ته ددې خبرې په ښودلو سره چې عامه ګډون ( IAP2 Public Participation Spectrum) لپاره د نړیوالي اتحادیې د ګډون موقعیت چیرته راځي د هغې د اثر و نفوذ د هغې درجې په اړه واضحې وي چې د ټولنې ګډون او دخالت یې په مربوطه پرېکړه لري؛ او

ب. اداري وهڅوي چې عامه ګډون لپاره د نړیوالي اتحادیې IAP2 Public Participation Spectrum )) سره سم د ګډون او دخالت لا زیاتې د "ښکېل" او "همکارۍ" سطحې ترسره کړي.

[۳۹]　**قانون سازي** داسې ترميم کړي چې په لاندې قوانينو کې د نفرت د انګيزې جرمونه ځای کړي:

أ.　**د 1981** جرمونو د لنډيز قانون کوم چې د تحقيري چلند يا ژبې، حملې، عمدي زيان يا ازارولو د موجودو جرمونو سره سمون خوري؛ او

ب.　د 1961 جرمونو قانون کوم چې د حملو، اور لګولو او ارادي زيان د موجوده جرمونو سره سمون خوري.

[۴۰]　**د 1993** د بشري حقونو د قانون برخه 131 لغوه کړي او د 1961 د جرمونو په قانون کې د نژادي يا مذهبي بې اتفاقۍ ته لمن وهلو چې اساس يې د تهديد، داسې تحفظي خصوصياتو چې مذهبي وابستګي پکې شامله وي سره د توهيني يا تحقيقي ارتباطاتو له لارې د کرکې د پارولو، خورولو او يا نورمال کولو د ارادې په اساس وي د جرم ماده پکې ورزياته کړي.

[۴۱]　**د 1993** د فيلمونو، ويډيو او نشرياتو د درجه بندۍ د قانون په برخه 3 کې د "قابل اعتراض" تعريف ترميم کړي او په هغې کې نژادي برتري، نژادي نفرت او نژادي تبعيض شامل کړي.

[۴۲]　**د نيوزيلينډ** پوليسو ته لارښوونه وکړي چې په هغو طريقو نظرثاني وکړي په کومو چې هغوی د جنايي چلند شکايتونه درج کوي تر څو جرم لپاره د کرکې انګيزې په سيستماتيکه توګه معلومې کړي او د لومړۍ کرښې عمله په دې چارو کې ورروزي:

أ.　د تبعيض ښکاره کوونکي پېژندل تر څو هغوی په هغه وخت کې چې ويني چې يو جرم د نفرت په انګيزه دی احتمالي نفرتي جرمونه وپېژني؛

ب.　د قربانيانو او شاهدانو د ادراکاتو راسپړل تر څو هغوی په داسې موقعيت کې وي ثبت کړي چې چيرته يو جرم د کرکې په انګيزه ګڼل شوی دی؛ او

ت.　د نفرت د دغسې انګيزو په داسې يوه طريقه ثبتول کوم چې وروسته د 2002 د جزا ورکولو د قانون د برخې 9(1)(h) څخه استفاده کول اسانوي.

**د عملي کولو لپاره سپارښتنې**

مونږ سپارښتنه کوو چې دولت:

[۴۳] **دا خبره** یقیني کړي چې یو وزیر ته مسوولیت او احتساب ورکړی شي چې زمونږ د سپارښتنو د عملي کولو او د ټاکنې د اعلان مشري او د اقدام هماهنګي وکړي.

[۴۴] **یوه د تطبیق** د نظارت مشورتي ډله جوړه کړي په کومه کې چې:

أ. د ولسي ټولنو، مدني ټولنې، محلي حکومت، خصوصي سکټور، د اغېزمنو شوو whānau ، د ژوندو بچ شوو او شاهدانو او زمونږ د Muslim Community Reference Group استازي شامل وي؛

ب. مسوولو وزیرانو ته (سپارښتنې 1 او 43) د حکومت د تطبیقي پلان او د هغې د کاري پیل د طرحې په اړه مشوره ورکړي؛ او

ت. د شفافیت د پراخه کولو لپاره خپله مشوره خپره کړي.

# د پای ټکی

[۱] دا راپور د هغه څه یوه خپلواکه تشریح وړاندې کوي چې د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید په اوږدو کې رامینځته شوي او دا چې د هغه د مخنیوي لپاره څه کېدلی شو، که چیرې څه کېدلی شو، او اوس باید د نیوزیلینډ د بهتر حفاظت لپاره څه وکړی شي.

[۲] د 15 مارچ 2019 د تروریستي برید د وحشتناکو پېښو څخه مونږ ته دا مسوولیت راځي چې انعکاس وکړو او ترې زده کړو.

[۳] د دولت لومړنی وظیفه بیا هم د خپلو خلکو امنیت ساتل دي. خو ملي امنیت یوازې د استخباراتي او اداراتي او قانون نافذوونکو ادارو ځانله چاره نده. د عامه سکټور ډېرې ادارې هم باید خپل رول پکې ولوبوي. خو په دې کې مهمه دا ده چې ولسي ټولنې، مدني ټولنه، محلي او حکومت او خصوصي سکټور هم داسې کوي. نیوزیلېنډیان د تروریزم او افراطیت په مقابله کې یو مهم رول لوبولی شي. د دغه رول د لوبولو لپاره لازمي ده چې نیوزیلېنډیان د مسلو په اړه معلومات ولري او دا چې دوی د کومک کولو لپاره څه کولی شي.

[۴] په ذهن کې ددې خبرې په نیولو سره، مونږ په خپل راپور کې پراخه اندازه داسې مواد شامل کړي دي چې مخکې د "غټ راز" یا "راز" په توګه درجه بندي شوي وو. دا مونږ دې لپاره وکړل چې دا خبره رڼا ته کړو چې د نیوزیلینډ تروریزم سره د مقابلې هڅې په اصل کې څنګه کار کوي. دا به په راتلونکي کې ددې توان پیدا کړي چې بحث د پوره معلوماتو پر اساس وي. مونږ داسې د معلوماتو پر اساس بحث ته د ټولنیز جواز د بنیاد او په دې توګه تروریزم سره د مقابلې د هڅو د اغېزمنتیا په سترګه ګورو.

[۵] مونږ قبلوو چې مونږ خپل تحلیل او راپور د کووېډ19- په سیوري کې نهایي مرحلې ته وروسو. دې وبا په ټولو ټولنو اغېز کړی دی او دا د ټولنې د بیدارۍ او ټولنیزو بېخ بناو لپاره یوه قوي یادونه ده. دا همداراز په واضح ډول دا خبره هم روښانه کوي چې کله یوه ټولنه د پراخه عامه ګټې لپاره په ډله ییزه توګه اقدام وکړي نو کومې لاسته راوړنې لرلی شي.

[۶] ټولنیز پیوستون د نیوزیلینډ د راتلونکي سلامتیا او امنیت لپاره اساسي اهمیت لري. په داسې حال کې چې د ډېرو نورو هیوادونو په نسبت د ټولنیز پیوستون سطح په نیوزیلینډ کې ډېره لوړه ده ولې بیا هم ځیني د کمي ټکي شته. ټولنیز پیوستون ته ادامه ورکول او پراخول یې د حکومت لپاره یوه حیاتي چاره ده. مونږ په دې باور لرو چې لېوالتیا شته. مونږ په خپلو سپارښتنو کې د دغې لېوالتیا د حقیقي کولو لپارمیکانزمونه وړاندې کړي دي.

[۷] دا بدلونونه به آسان نه وي، ولې مونږ یې دېپل ټکی (wero) کېښود او د دولت نه غوښتنه کوو چې دا چیلنج ته غاړه ورکړي او اقدام وکړي.